# معلوماتي

# پاڼه

ديويد منزفيلد او ادم پن اکتوبر ۲۰۰۵

## د معيشت بله لاره

## حقيقت يا شعار؟

### د معيشت بله لاره

ددې معلوماتي پاڼې مطلب دادی چې دا په ډاګه شي چې څه کول پکاردي چې د معيشت د بلی لارې مفکوره دنشه يی توکو پرخلاف د مبارزې اهداف تعقيب کړي. تر څو وکولای شي چې خپل تا ثيرات په هغو لاملونو نور هم زيات کړي کوم چې د کوکنارو د کرنې د مخنيوي سبب ګرځي.

### محتويات


١. بديل معيشت او دترياکو اقتصاد
٢. دمتبادل انکشاف څخه د معيشت د بلی لارې په لور
٣. په ۲۰۰۵ کال کې د کوکنارو په کښت کې بدلون او د معيشت د بلی لارې دپاره درسونه
۴. دمعيشت بديل او را ولاړيدونکې ستونزې
۵. په مخکې لارې


### سريزه


په دې وروستيو کلونوکي افغانستان په نړۍ کې د ترياکو دلوې توليدوونکې په توګه دنړيوالو دزياتې پاملرنې وړګرځيدلې دی. اودا توليد په تخميني ډول ٪۵۰ دافغانستان مجموعي توليدې پرمختګ ښئ. په دې هکله چې څرنګه دترياکو ستر توليد له جرړه وايستل شې بيل بيل نظريات شته ليکن دتاکيد اوپاملرنې وړنظريه هغه د بديل معيشت يا د معيشت د بلی لارې د انکشاف نظريه ده، سره له دې چې په اوسنيو شرايطوکې تراوسه هم دکوکناروکرلو ته زيات شوق او علاقه موجوده ده ځکه چې دترياکو کاروبار نوو بزګرانولپاره يو کم خطره زراعتي توکي بريښي، په داسې حال کې چې ډيرد دې توکې دکرلوڅخه د ګټې اخيستو په هيله دې خوحقيقت دادې چې اصلي اوزياته ګټه يې څوکسان اوچتوي.

په افغانستان کې د ترياکو دتوليد دله منځه وړلولپاره له هغه څه نه چې موږيې دزراعتي اوغيرزراعتي عايداتو قانوني تشويق بولوزيات څه کول په کاردي. دنشه يی توکودمبارزې د اهدافو يومهم اصل دپراخه انکشافي اهدافولاسته راوړنه ده چې پکښې دهغوتاسيساتو ايجاد ول شامل دې چې حکومت په رسمي ډول ورته اړتيا لري اوهمدارنګه د پياوړې مدني ټولنې پرمختګ اوديوه اجتماعي او مصؤنيتي ميکانيزم تقويه کول دي. څرنګه چې نوموړې دنده د ځوو ابعادو لرونکې ده نوهدف بايد د ملت آبادی او بيا رغونه وي نه صرف د نشه يی توکوکنترول، مهمه څرګندونه داده چې بايد ذکر شوی وسيع اوپراخه هدف دنشه يی توکو د کنترول په اجندا کې په داسې ډول ځاي پر ځاي شي چې د بيلا بيلوخواوڅخه د پرمختيايې کارکونکو د پاملرنې وړوګرځي.

په افغانستان کې د کوکنارو دکرلو دکچې او دهغی د کرلو پيچلو دلايلو د کومو له کبله چې هغه کښت کيږي اود هغومقايسوي تجروبو په پام کی نيولو سره چې د سويل ختيزی آسيا اولا تين امريکې هيوادونو څخه په لاس راغلي دي، دا ښيي چې دايوه غير احتمالي خبره ده چې د بديل انکشاف موډل چې په جلا ساحوی پروژو باندې ولاړ دی، دنشه يی توکو دمبارزې پر اهدافو څه اغيزه وکړي اوهمدارنګه د معيشت د بلی لارې د طريقې رامنځ ته کيدل چې هڅه


---

**ليکونکو په هکله: ديود –منزفيلد** د معيشت د بلی لارې د چارو يو ماهر دی چې څورلس کاله يې دکوکناراو ککوپه هکله کار او څيړنې په هغو هيوادونو کې کړي دي چې دنوموړوتوکو توليدوونکي دي. او اته کاله تجربه دافغانستا ن په هکله لري چې دترياکو د رول په هکله په ورځني معيشتباندې څيړنی ترسره کړيدي. **ادم –پن** هم له پنځه لس کلونورا په دې خوا دهماليا په لوړوسيمو کې د سيمې د معيشت په هکله کارکړيدي او همدارنګه دانګلستان د انګليا په پوهنتون کې دانکشافي مطالعاتو په مکتب کې د څيړنو يوما هر دی.

کوی د نشه یی توکو د مبارزي په موخه د ملي پرمختیايي ستراتیژیکو پروگرامونو سره گډکړی، د کوکنارو دکښت د لاملونو یوځواب گڼل کیږي ترڅو د ملت جوړوني یوه پراخه اجندا جوړه کړی.

خو په اوسنیو شرایطوکي داصرف یوه اصطلاح پاتي شوې چې له ځانه سره ښکاره خطرونه لري په دي معني چې "پرمختگ یا انکشاف د مخد ره توکو په چاپیر یال کي" په بنیا دي ډول یوه بي اساسه او نه قنا عت بخښونکي خبره ده او ډیر خلک د نوموړي اصطلاح څخه د تظا هر اوښودني په توگه کار اخلي. همد ارنگه یو لړ په واقعیت نه ولاړتوقعات اوهیلې وجودلري چې څرنگه اوڅه وخت به د بدیل معیشت یا د معیشت د بلی لارې مفکورې ته انکشاف ورکول کیږي په داسي حال کې چې تراوسه د یوخیا ل په بڼه پاته ده او په راتلونکې کې به وکتل شي چې څه کیږي. هغه فشارونه چې د دولت د صلاحیت لرونکو مقاماتوله خوا دکوکنارو په هکله راوړل کیږي چې په نتیجه کي یي دکوکناروکښت ساحي زیات کمي موندلي دي هم له ځانه سره یو څه خطرونه لري هغه داچې د بزگرانو عوضي غوښتني اویا دهغوي هیلي د معیشت د بلی لارې د تقویي دپاره دي چې دا خبره به ستونځي نور هم زیات کړي.

> د فوری اغیزو او لاس ته راوړنی لپاره زور اچول ددې سبب کیږي چې په واقعت نه ولاړ توقعات رامنځ ته کړي چې کله او څرنگه به د معیشت بله لارې ته انکشاف ورکول کیږي

دنشه یی توکو پرخلاف د معیشت د بلی لارې منځ ته راوړل د حکومت د یواساسي ستراتیژی په توگه واضح او روښانه نه ده: اوداسي فکر کیږي چې دیوه جلا سکتور په بڼه باندي دپاملرنې وړ وگرځي چې د جرړه ایستلو او مخنیوی لپاره ځانته خپله بودجه ایجابوي. داسي نښي نښاني موجودي دي چې یو شمیر پروگرامونه د معیشت د بلی لارې تر عنوان لاندي طرح شوي دي خوپه عمومي ډول دارنگه پروگرامونه هیڅ وقت په عمل کي نه دي پیاده شوي اوهغه اثرات چې باید نوموړوپروگرامونو دتریاکوپه مقایسه دخلکو په معیشت باندي درلودلي واي، نه دي لرلي. یو لړ شمیر و نوموړیو پروگرامونو د تریاکو د کښت درلاملونو مکمل تحلیل ته زیاته پاملرنه کوې او همدا رنگه ددې پروگرامونو فرض شوي دخالت د مهمو سیمو لپاره چې په کافی ډول د زراعتی تولیداتو قابلیت لري د لطمی سره مخامخ شوي دي په داسی حال کې چې په دي سیمو د تریاکو د کښت کچه په دی پیمانه نه دې څومره چې وربانذی تمرکز شوي دي.

ددې لیکني مطلب دادي چې څه کول پکاردي چې په اغیزمنه ډول د معیشت د بلی لارې مفکوره دنشه یی توکوسره دمبارزي په ستراتیژی کي ځاي پرځاي شي ترڅو وکولاشي چې خپل تاثیرات په هغولاملونو واچوي چې دکوکناروډکرنې د مخنیوي سبب کیږي. اوهمدارنگه دموخو، وقت، اولازمي هم اهنگي دمنځ ته راوړلو لپاره داسي موثره ثابت شي چې دنموړوتوکو دتولید کچه راټیټه کړي.

## ۱. د معیشت بله لاره او د تریاکو اقتصاد

دافغانستان په اوسني سیاسي اواقتصادي حالاتوکي د تریاکو د کښت څخه یوڅوخاصي ګټې متصورې دي اول داچې دا یوداسی توکی دی چې په ډیرکم مقدار یې زیات ارزښت او بیه لري اوبل داچې تقاضا هم ورته موجوده ده. همدارنګه دافغانستان اقلیمي شرایط ددې نبات دودې اوحاصل ورکولو دپاره داسي مناسب دی چې تقریبا دنړی دنوروتولیدوونکو په پرتله یې دتریاکو اومورفین منځنی اندازه لوړه ده اود اوبو دکمې په صورت کې یوه ښه عایداتي منبع بلل کیږي. ددې توکي دکښت په بیلا بیلو پړاوونو کی د افغانستان ماتې ګوډ بنیادی بنسټ سره سره یوڅه ګټې موجودې دي لکه د مارکیت یا بازار موجودیت، کریدیت لاس ته راوړل، پلورل اورانیول، انتقال، او د تولید مراحل ذکرکولاي شو. ځیني تخمینو نه داسې ښیې چې یو هکتار دکوکنارو کښت سبب کیږي چې په کلیوالي غیرزراعتي اقتصاد کي ۵، ۶ وظیفي رامنځ ته کړي.[۱]

همدارنګه کریدیت اویا پیشکي پیسي ورکول و بزګر ته چې یوه پخواني رواجي موضوع ده هم ددي سبب کیږي چې بزګران دکوکنارو کرلوته دنورو زراعتي حاصلاتو په نسبت برتري ورکړي ان تردي چې د پیشکي پیسو مقدار دبزګرانو په خواهش اوارزو پوري اړه لري او هره اندازه چې وغواړي، ترلاسه کولاي یي شي. له بلي خواڅخه دبزګر مهارت دکوکناروپه کښت کي ددي سبب کیږي چې بزګران دکښت په مقصد ځمکه تر لاسه کړي او هم دځمکي داجارى ارزښت دکوکنارو په بالقوه حا صل پوري اړه لري په هره پیمانه چې دتر یاکو حاصلات یي زیات وي هماغه اندازه دهمغي ځمکي ارزښت هم لوړدي حال داچې د ځمکي ارزښت دغنمو دحاصلاتو په انډول نه مقایسه کیږي.نوپه داسي شرایطوکي داسي یوزراعتي توکی نشته چې دکوکناروپه مقایسه دي دومره ګټې ولري، هرکله چې د دي توکي دکر کچه راټیټه شي نودزراعتي عایداتوکچه هم ورسره را ټیټیږي او په نتیجه کي به یوشمیر خلک په ځمکو باندي دکارکولو امکانات له لاسه ورکړي.

مهمه خبره دا چې په دي باید باور ولرو چې د کوکنارو په کښت کي نغښتي ګټې د ځمکي د خاوند او بزګرلپاره توپیرلري، د ډیرو ځمکو لرونکو لپاره داتوکی د ډیراهمیت وړدی ځکه چې د حاصلاتود اوچتولو نه وروسته هغه وخت عاید لوړتیا مومی چې د دې توکي قیمت یه کافي اندازه لوړیږي او زیاته ګټه اوچتوي. ځیني وخت د ځمکی د غیر عادلانه اجارې له مخی داسي هم پیښیږي چې د ځمکي خاوند دمجبوریت له مخي پیشکي پیسې ترلاسه کړي چې په دې صورت یوه برخه دخپلو حاصلاتو دلاسه ورکوي سره له دي چې ۲۰٪ د تولید مجموعي لګښت هم باید ادا کړي او یا خپل تریاک دحاصل د اوچتولونه مخکي په ارزانه بیه پلوري چې د یوشمیرنوروکسانو لپاره د ډیري زیاتي ګټي سبب کیږي د بزګر اویا بي ځمکي کسانو حالت کاملا متفاوت دي دداسي اشخاصولپاره دکوکنارو کښت صرف یوه داسي عایداتي منبع ده چې د دوي لپاره دکارکولو امکانات په ځمکه باندي، اویاد بزګرۍ او اجاره دارۍ امکانات دیوي کورني د اعاشه کولو لپاره برابروي حتي ډیرځمکه لرونکي کسان داسي دي چې دخپل غذایي اوکورني لګښت دپوره کولو په خاطر دکوکناروکښت ته مخه کوي، نود بي ځمکي غریبانو لپاره تریاک باید دکریدیت دلاسته راوړلو دیوي وسیلي په توګه تعریف شي. چې بي له دي څخه به دوي دورځني ضروریاتو لکه غذا، صحي اړتیاوو، اویا دنورو زراعتي توکو د اخیستلو له شدیدوموانعو او ستونځو سره مخامخ شي.

دکوکناروکښت حتي دهغوکسانو لپاره چې په کار پسي له یو ځاي څخه بل ځاي ته لیږدي هم دکارفرصتونه او زمیني برابروي لکه دکوکنارو خیشاوه کول، دحاصلاتو ټولول اوداسي نور. د یو – ان – دي – سي د تخمین په اساس په ۲۰۰۳-۰۴ کلونوکي ۱۳۱۰۰۰ هکتاره ځمکه باندي کوکنار کرل شوي وه چې نوموړي کښت ۴۶ میلیونه کاري ورځې رامنځته کړی چې له هر درې

[۱] جان ډبلیو میلور، د ۲۰۰۵ کال د مارچ ۳، "په افغانستان کې د کوکنارو او زراعتې وده"، د USAID/RAMP پروژه، افغانستان، د لمانځلو ځای د نړیوال بانك سهیلی آسیا د کلیوالهې ودې جرګه

کسانو[۲] څخه یي یوه تن مزدورکار ته د ورځني مزدزمینه برابره کړه اویا په بل عبارت لږ تر لږه دهرې کورني یوه نارینه ته دخیشاوه کولو او یا د حاصلاتو د ټولو موقع په ګوتو ورغلي ده. دکوکنارو په کښت کې دکار کولو زمینه دپنځوماشتولپاره دي لیکن هغه عاید چي په دي موده کي ترلاسه کیږي دیوه بزګر د بزګرئ دکلني عاید څخه لوړدي. هغه بیلابیل رولونه چي د کوکنارو کښت يي دیوي کورني دورځني معیشت دستراتیژیو لپاره لوبوي که یوازي د دغو منابعو لکه کریدیت، دعایداتو لاسته راوړنه، غذايي مصونیت اوداسي نور له لږ څخه د یوی قانوني منبع بد یل شي ددي توکي د متداوم له منځه وړلو لپاره به کا في نه وي، نو ویلاي شو چې ددي ستونځي د حل لپاره لنډه لاره نشته. که چیري غواړوچي د نوموړي توکي کښت ته خاتمه ورکړو، که په یوه محدوده جغرافیايي ساحه کي هم وي نوپراخي اوځو اړخیځه هلي ځلي لازمي اوضروري دي چي په یوډیرشمیر کلونوکي ترسره شي.

## ۲. د متبادلوي ودي څخه د معیشت د بلی لارې په لور

دنشه یی توکو اوانکشافي متخصصین په دي باور دي چي د ستونځي د خصوصیاتو په نظرکي نیولوسره سره چي په افغانستان کي موجود دي، ددولت جوړوني اوبیا رغوني دپروسي څخه په مجزا ډول د غې قانونی نشه یی توکو د کرنی له ستونځي سره معامله نه شي کیداي اودا ستونځي باید دنورو انکشافي پرابلمونوسره کوم توپیر ونه لري. کومې کړنلارې چي د پروژوداجراکولو لپاره دمحلاتوپه سطح د متبادل انکشاف دمودل تر عنوان لاندي په ۱۹۹۰-۱۹۸۰ لسیزه کي په افغانستان کي عملي شو پدي ونه توانید لو چي په هغوعاملوچي د کوکنارو دکرني سبب کیږي کوم اغیزه وکړي اویا دنوموړي توکي دکښت کچه راټیټه کړي.

اوسني مهم اصل په دي بنا دي چي دنشه یی توکوستراتیژي داډول مطرح شي چي په هغه کي د کوکنارو د جرړو د ایستلو له پاره د معیشت د بلی لارې مفکوري ته انکشاف ورکړاي شي حال داچې دامفکوره بي له دي چي یوواقعي اوعملي مفهوم ولري تراوسه یو خیا ل دي. د معیشت د بلی لارې د غوره کولو مفکوره دمتبادل انکشاف دضعیفو نکاتو دتحلیل اوتجزیي په نتیجه کي منځ ته راغلي، څرنګه چي په تیره موده یعني په ۲۰۰۲ کال کي دکوکنارو دکښت دستونځوپه هکله کوم تصورموجودوو، دنوموړو تصوراتوپربنا او د بیا رغووني اوجوړووني ترعنوان لاندي بین المللي ټولني خپلو مرستو ته اختصاص ور کړئ، لیکن باید له یا ده ونه باسو چي ددي دوو اصطلاح ګانو یعني متبادل انکشاف اود معیشت د بلی لارې دمعني او مخوپه منځ کي یو مهم تردید موجود دي چي ددوي دفرق د لا ښه روښانه کولو لپاره دي لاندي جدول ته مراجعه وشي.

په دي خبره باید زور واچول شي چي د معیشت د بلې لارې ارزښتونو ترنن پوري دیوه بالقوه مفهوم په شکل پاته شوي، نه د یوه متوصل حقیقت په توګه په افغانستان کی د کوکنارو د کرکیلی د کمولو له پاره سیاسی زور اچونه اوهغه ظرفیتي موانع چي د نشه یی موادو او انکشاف په ساحه کي موجودې دي ددې سبب شوي چي د معیشت د بلی لارې مودل ته نورهم خیالي شکل وروبښي.

د معیشت بله لاره هم لکه متبادل انکشاف، بیلا بیلوخلکوته بیلا بیل مفاهیم لري. د ډیرو لپاره په انکشافي ټولنه کي د معیشت د بلی لارې څخه مقصد کلیوالي معیشت دي لکه څرنګه چي همیش همداسي تصورشوي دي. بي له شکه په دي نظریه کي دا فرضیه موجو ده ده

[۲] دیود–منزفیلد د ۲۰۰۴ کال د دیسمبر میاشت، تنوع او د دوه نا مناسبو اړخونو څخه د یوه غوره کول: په لغمان او ننګرهار کې د کلیوال معیشت پیژندنه او د کوکنارو د کرني دلایل په کوته کول، دافغانستان ختیځه برخه، د GTZ د معیشت د بلي لارې بروژه، ختیځ افقانستان: دوهمه شمیره داخلي سند.

| لومړی جدول: د متبادل انکشاف او د معیشت د بلی لارې په مینځ کي څه تفاوت او فرق موجوددی | | |
|---|---|---|
| | متبادل انکشاف | د معیشت بله لاره |
| ځانګړتیاوي | دساحي په اساس دناپایدارو او جلا پروژو د اجراکړنلاره | په ملي انکشافي ستراتیژي اوپروګرامونوکي دنشه يی توکوپرضد دمبارزي د اهدافو ځاي پرځاي کول |
| دستونځو تجزیه اوتحلیل | دستونځي تعریف اکثراً په دي پوري محدود وه چې د غیرقانوني زراعتي حاصلاتوموجودیت په یوي حانګړی ساحه کي و بنیي | دهغوعواملو تجزیه او تحلیل چې د تریاکو اقتصاد منځ ته راوړي. |
| اجنداً | اول، دغیرقانوني اونشه يی توکو دکښت دکچي راټیټیدل، د کرنی د لا ملونو سره چلند کول | د پراخه دولتی رغاونې او و دې پروګرام چې د تریاکو د کښت د لا ملونو څیړنه یي وکړه. |
| اجراکونکي | دنشه يی توکودکنترول د ملي او بین ا لمللي ادارو له خوا طرح او اجرا شوې ده | دانکشافي اجراکونکو له طرح او اجرا ده او د هما هنګي او تخنیکي همکاري په برخه کی دنشه يی توکو دکنترول دادارو له خوا مرسته شوې. |
| داجراکولوکړنلاره | ددې لپاره کوښښ چې زراعتي عایدات دنشه يی توکو لکه د ککو، او تریاکو دعایداتو ځاي ونیسي | هغو عواملوته رسیده ګي کول کوم چې یوه کورني دي ته مجبوروي چې د کوکناروکښت ته مخه وکړي |
| د اغیزو ارځونه | دغیرقانوني توکودکښت د کچي ټیټوالي په هکتار سره اندازه کول. | دانساني پرمختګ پر بنا، او همدارنګه دنشه يی توکود کنترول داندازه ګیری په اساس اودهغو جریاناتو کتنه چې یوه کورني څرنګه دغیرقانوني معیشت څخه دقانوني معیشت خواته راګرځي. |
| توانايي | د مخه د پرمختیائی مرستی د ورکولو یوازنی لار تر څو د غیر قانونی نشه يی توکو د تولید ساحی ګو ښه پاتې او محدود شي. | دملي انکشاف دستراتیژي یوه برخه، دانکشاف او نشه يی توکوداجندا د شریکو نقاطوپیژندل |
| ضعف | • له قانونی څخه دغیرقانوني معیشت خواته دتګ له جریان څخه دمعلوماتو کمښ، چې غالبا دټیټ والي کچه دشرایطوپر بنا ولاړه وه.<br>• د پراخه ملي انکشاف دستراتیژي سره دمتبادل انکشاف ضعیفه رابطه<br>• دغیرقانوني نشه يی توکودپراخه رول څخه سترګې پټول<br>• انکشافي مهمو مسایلوته لکه: فقر، جندر، اوچاپیریال ته کمه پاملرنه کول. | • دمتبادله عایداتي پروژو د کموالي خطره، اود پراخه سازمانی مسایلو شاته غورځول<br>• عملا يي اجراکول ستونځمن دي. |

چې که چیري په قانوني ډ ول دکلیوالي ژوند سطح لوړه کړ اي شي نو په اتوماتیک ډول به دکوکنارو دکښت سطح را کمه اویا له منځه ولاړه شي. سره له دې شواهد له نوروملکونوڅخه دابښيئ چې همیشه داسي نه وي. په ضعیفه طرحه، اجراتو، اوضعیف حکومت کي دژوند قانوني اوغیرقانوني شرایط په موازي ډول پرمخ ځي

اویا که په یوځاي کي ښه والي وموميي په بل ځاي کي دوباره وده کوي.

خو د ځینو نورو اشخاصولپاره بیا د معیشت د بلی لارې نظریه یوه وسیله معلومیري چې په دې وسیله به وکولا ي شي چې تمو یل کونکو منابعوته لاره وموميي اود انکشافي فرضیوپه وړاندې کولو سره داسي اجرات پیشنهادکړي چې ګواکي دوي به د کوکنارودکښت اوتولید کچه سربیره

پر دي چې پایداره هم نه وي راتیټه کړي. یوشمیرنور بیا داسي فکرکوي چې د بدیل معیشت یا د معیشت د بلی لارې اصطلاح دمتبادل انکشاف سره مترادفه ده چې په عمومي ډول دانکشافي مرستو د وعدو اودمعاملي کولو دوسیلي په توګه ورڅخه کاراخیستل شوی چې په دي ترتیب به دتریاکو د کښت کچه کي اعظمي ټیټ والي دټولنې له خواراشي چې په هکتار سره به اندازه کیږي، بي له دي چې داخبره په نظرکي ولري چې دخلکو دژوند په سطح کي څه بنیادي بدلون راغلی دی اویا د منابعو اوعایداتو په زیاتوالي سره دخلکو تړاودکوکنارو‌سره په کومه کچه دي؟ دانکشافي مرستو عرضه کولو داسې شکل درلود چې د مرستي په صورت کي دخلکوڅخه داغوښتل کیده چې دوی به د کوکنارو دکښت څخه لاس واخلي اوچې کله به داسي وه نه شول نوذیصلاح مقاماتوبه د زور او فشارله لاري دکوکناروختمولوته ادامه ورکړه اوانکشافي مرستي به د تعلیق په حا ل کي پاتي شوې. ناکامي په دي کي ده چې هیڅا ونشوکولای دکوکنارو د کرني اصلي علتونه وڅیړي اوهغوته داسي ځواب وواېي چې د غریبوخلکولاس رسی عوایدو اونورومنابعوته پیداشي، له دي کبله که په یوځاي کي دفشار اوزورله لیاري بندشول نوپه یوه نږدي ګاونډۍ منطقه کي په ناچاړډول بیرته دکوکناروکښت ته مخه وشوه.




## ۳. په ۲۰۰۵ کال کي دکوکنارو‌په کښت کي بدلون د معیشت د بلي لاري دپاره درسونه (تجربی)

دساحې څخه کتنه اوځیني راپورونه داسي ښیئ چې په ۲۰۰۴-۰۵ کال کي دکوکنارو دکښت په ساحه کي د نوروکلونو په انډول یوچټک کموالي راغلي دی چې د دی کموالي علتونه مختلف دي، ځیني یي دنشه یی توکو دمبارزې دستراتیژی کامیابي بولي، خو ځیني نور لاملونه لکه ډیر زور اوفشار، دانکشافي مرستو وعدي، دکښت د له منځه وړلوګوت نیونه، دغنموکمی، دتیروفصلونود کښت ناکامي، اودتریاکو په قیمت بي باوري، داټول سبب شول چې نوموړی کموالی رامنځ ته شي.

په ۲۰۰۵ کال کي دکوکنارود کښت چټک کمي دهلمند اومخصوصا ننګرهارولایتونو په اقتصادي وده باندي اغیزه کړیده. څرنګه چې د کوکنارو دکرني منع کول په ننګرهار کي دنږی دزوراوفشارسره یو ځای ترسره شوچې په نتیجه کي یي د دي سیمي خلکو دژوند زیات فرصتونه له لاسه ورکړه په خاص ډول په تجارت، ترانسپورت د ابادانی وسایل، داجناسو په قیمتونو اونوروسکتورونوکي د ملاحظي وړ منفي اغیزي وکړي حال داچې دغه اغیزي په هلمند کي کمي محسوسي وي

**دویم جدول: په ننګرهار کې دتریاکودتولید دکموالي نتایج په ۲۰۰۵ کال کې**

- دکوکنارو دکښت ساحه ۹۵٪ را کمه شوي البته د ۲۰۰۳-۰۴ کال په انډول
- په زراعتي او غیرزراعتي عوایدوکې یو دملا هظې وړ کمي لیدل کیږي او همدارنګه دټولني بې وزلو خلکو ته دکریډیت اوځمکي نشتوالي.
- ولایت په دراماتیک ډول دعایداتو له لاسه ورکول ددي سبب شو چې قانوني اقتصاد وده ونه کړي اودګمارلو امکانات او فرصتونه له منځه ولاړشي.
- دکوکنارو دکښت د منعي تاثیرات په هغو لیري پرتوسیمو کې ښه تر سترګوکیږي چیرته چې ځمکه کمه ده، نفوس زیات دی، او دخلکو ژوند زیات نه زیات دکوکنارو په کرنه پوري تړلی دی.
- په غذایي اوصحي لګښتونو کې کمی لیدل کیږي حتي په هغو کورنیو کې هم داکمي ترسترګو کیداي شي چې په اقتصادي لحاظ دټولنې ښه‌ایه برخه جوړوي.
- د دارایي له لاسه ورکول لکه د څاروي اوځمکې خرڅول، دقرضونو نه اداکول، اودقرض د نه اداکولو په صورت کې د جنګ جګړو زیاتوالی، د املاکو دارایي او منابعوشتوالی دهغو خلکو په لاس کې چې ښه‌ای دي او یا په غیر قانوني تجارت او کار وبارکې لاس لري.
- په عمو مي ډول تریاک په غنمو عوض شوي دي، دلوړ ارزښت زراعتي توکي هغوسیموته خاص شوي دي چې د جلال اباد ښار ته نږدې دي. شواهد ښیې چې سیمه ییز واکداران د باغداري د زراعتي توکو اوپرمختګ خنډ ګرځي ځکه چې دوي په لویو لارو او سړکونو باندي کنترول لري اوخلک نه شي کولاي چې تخمونو، داوبو منابعو او نورو اباداني وسایلو ته لاس رسی ولري او همدارنګه ځیني توکي په خلکو باندي په زوره پلورل کیږي.
- دزراعتي او غیرزراعتي عایداتو د له لاسه ورکولو په مقابل کې ډیرې کمې مرستې شوي دي لکه د نقدو پیسو په مقابل کې کار تر څو د هغوخساراتو جبران وشي چې کارکونکو به د تریاکو د کرنې په پنځومیاشتو کې تر لاسه کول.
- د فصلي مها جرتونو زیات والي په دي هیله چې دکار امکانات کم او د مزد کچه د جلال اباد په ښار کې را ټیټه شوي. همدارنګه ددایمي مهاجرت کچه پاکستان ته مخ په لوړیدوده ځکه دخلکو سره دا ویره ده چې کیداي شي چې د غنمو د فصلي حاصلاتو څخه وروسته د غنمو او نورو غذایي موادو قیمتونه پورته ولاړشي، او د خلکو سره دا تصور هم موجود دي چې که چیري د اینده کال د پاره هم د کوکنارو کښت منع کړاي شي نو په نتیجه کې به ډیري کورنې د پاکستان او ایران مهاجرت ته مخه وکړي لکه چې په ۲۰۰۱ کال کې دطا لبانو له خوا د کوکنارو د کښت د منعي په وخت کې همداسې وشول.
- یوه سیاسي نا خوښي د ودي په حال کې ده مخصوصا په هغو لرې پرتو سیمو کې چیرته چې د قانوني معیشت امکانات ډیر کم دي او دا موضوع ددیمکرا تیکي پروسې اود د ولت د ملاتړ لپاره د اهمیت وړده.

هغه هلې ځلې چې دکورنیو دقانوني معیشت دتقویې لپاره په ننګرهار کې ترسره شوي له یولړ ستونځو سره مخا مخ شوي ځکه چې د کوکنارو منعې له څوخواوو څخه په عمومي اقتصاد خپل منفي اثرات واچول. دکوکنارو ۹۵٪ کمی ددي سبب شو چې دولایت په سطح ۸ میلیونه کاري ورځې او ۱،۳ میلیونه دورځني مزد دکاري ورځو په انډول راکم کړي. په ذکرشوي محاسبه کې دا اټکل شامل نه دی چې یو هکتار دکوکناروکښت ۵،۶ وظیفې منځته راوړي.[3]

په ۲۰۰۵ کال کې دکوکنارو له کبله دعایداتودکمي دجبران په خاطر یوشمیر پروژې لکه نقدې پیسې دکار په مقابل کې، عملي شوی چې د هلمند په ولایت کې یې یوشمیر زیات د مقرری فرصتونه رامنځته کړه لاکن دهغونورو عواملو په موردکې چې دکښت ا ساسي سببونه شمیرل کیږي ډیرکم کار شویدي.مثلا دولایت مقامات په دي نه دي توانید لي چې کورنی په دي قانع کړي چې د کوکنارو دنه کرلو فیصله وکړي اویا هغه موانع له منځه یوسي چې دیو قانوني اقتصاد دودې خنډ ګرځید لي دي. په باوري ډول ویلاي شوچې د یوه کوچني سکتور لنډه موده لرونکي پروژي لکه کار د نقدو پیسو په مقابل کې هیڅ وخت نه شي کولاي چې داسي لاس ته راوړني ولري چې دکوکنارو د کرلو ځاي ونیسي، خصوصاً په هغوځایونو کې چې د نوموړي توکي کرنه دکورنیو دورځیني معیشت یوه نه بیلیدونکي ستراتیژي تشکیلوي.

[3] میلور Mellor ۲۰۰۵ کال

**دریم جدول: په ۲۰۰۵ کال کې د هلمند په ولایت کې دتریاکو دتولید دکچې دکموالي نتایچ**

- دکوکنارو د کښت ساحي له ۳۰٪ -۴۰٪ پورې کموالی موندلی دی.
- دسیمې اقتصاد له رکود سره مخامخ شوی ولې په ټپه ولاړ نه دی.
- د بهرنیو کارکونکو او بزګرانو په شمیر کې ډیر زیات کموالی ترسترګو کېږي
- د ۲۰۰۵ کال په دوران کې په هغه مرکزي داوبو لاندې خړوبه سیمه کې چې مخکې د یو شمیر کورنیو له خوا کوکنار کرل کیدل سږکال نه دي کرل شوي اویا ډیر کم کرل شوي دي. دبزګرانو په لاس رسي کې وځمکې ته کومه ښکاره مانع نشته حتي تر دي چې په هغو سیمو کې چې د کوکنارو کښت کمی‌هم موندلی دی په بزګری ځمکه پیداکیږي.
- د نقدوپیسوپه مقابل کې دکار دپروژې موجودیت چې د یو – اس – اید USAID له خوا په ورځ کې ۴ دالره مزد ورکول کیده، نوموړې پروژې چې له ۵۰-۶۰ ورځویي دوام وکړ یو مقدار کافي پیسې وې چې د فصلي مهاجرت په کموالي کې یې مرسته وکړه.
- دتریاکو ځیني کښت کونکي په دې وتوانیدل چې خپل پورونه بیرته ورکړي، خو بیا یو شمیر نور ونه توانیدل.
- دهلمند په شمال سیمه کې بیا شرایط بل ډول وو: دابیاري سیستم نا مطمئن وو(کاریز) او د ځمکې ساحه هم محدوده ده. نو په مروج ډول د لږو غنمو تولیدونکی کلي دځاریو د تربیې او تولید او همدارنګه دمها جرت له وسیلې څخه دخپل معیشت دستراتیژي په توګه کار اخلي. د کوکنارو ساحه سره ددې چې محدوده شوې بیاهم زیاده بریښي، دکورنیو د قرضداري اندازه لوړه ده، د ځمکو د ګروی او بزګری محدود امکانات موجود دي، دځاریو شمیر هم لږ ترسترګو کیږي، دکاریزونو د پاکوالې کار دنقدوپیسو په مقابل کې موجود دی سره له دې چې دا یوه اساسي خبره ده خو په هغه صورت کې چې تداوم یې درلودای برسیره پردې ټولو، مهاجرت له سیمې څخه یو لازمي عمل دی.

همدارنګه هغو ټولنو او سیمو ته چې په اقتصادي او اجتماعي لحاظ دکوکنارو کرني ته لاچاره پاتي شوي دي، ډیره کمه پاملرنه شوي ده مثلا په ننګرهار کې ټول بې ځمکې کسان چې په یقیني ډول ځمکې، کریډیت، زراعتي او غیرزراعتي عاید، اوغذایي تحفظ ته ضرورت لري زیاتره د دوي ژوند دکوکنارو په کرنه پورې تړلي دي. په داسي حال کې چې دکوکنارو د منعي په صورت کې نوموړي طبقي خلکو ټول پورتني ذکر شوي امتیازات له لاسه ورکړل اوله بلې خواڅخه نوموړي قشر د انکشافي مرستو له ګټې اخیستوڅخه هم محروم پاته شو، هغه په دې ډول چې اکثره انکشافي مرستي دقریي اویا کلې شورا په واك کې ورکړل شوې ترڅویي په مناسب ډ ول یې تقسیم کړي. د دودیزو اصولو له مخی معمولا انکشافي مرستې لکه تخم، کیماوي کود، د نقدوپیسو په مقابل کې دکار موقع، اوداسي نور په لومړي مرحله کې هغه چا ته ویشل کیږي چې په سیمه یا کلي کې د اوبو اوځمکې خاوند وي. اوهمدارنګه هغوسیمو او کلیو ته هم ړومبې توب نه ورکول کیږي چې له نا چاري څخه د کوکنارو کرلو ته مخه کوي نو په نتیجه کې ددې خطرموجود د ی چې انکشافي مرستي هغو د ځمکې خاوندانو ته وویشل شي چې په حقیقت کې دا ډول کسان نه دکوکنارو کښت ته ضرورت لري اونه انکشافي مرستو ته. او داسي کړنه به نه غریب او بیچاره خلک راضي کړي اونه به د نشه یې توکو پر ضد د مبارزي اهداف تر سره شي.[۴]

دا باید په یاد ولرو چې څومره وخت ته ضرورت دي چې پایداره اود مقصد پوره کونکي انکشافي مرستي دیو عادلانه اقتصادي ودي په هیله په داسي یو محیط کې لکه افغانستان خلکوته وړاندي شي او د یو غیرقانوني توکي کچه ټیټه شي. اوهمدارنګه دا ممکنه نه ده چې یواځې دکریډیت دامکاناتو په برابرولو او یا د عایداتو منبع ته په تغیر ورکولو به په ثابته او پایښت لرونکی توګه د نشه یې توکو دکښت ټیټ والي رامنځ ته شي.

په هلمند او ننګرهارکې د سږکال تجربه دا راپه ګوته کوي چې د داسې یوی اوږدی مودی اوپایداری پالیسی ته ضرورت دی چې د کوکنارو د کښت، اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، اومحیطي لاملونوته ځواب ویونکی وي او نوموړی پالیسي باید دیوي پراخي ملي ستراتیژي له لارې دعمل جامه واغوندي.

[۴] دیوید منسفیلد، فقر او رټلي خملك؟ د ۲۰۰۴ – ۰۵ د کرنې موسم په ننګرهار ولایت کې د تریاکو د کرني بندیز او په کلیوال معیشت باندې د هغه اغیزه، د GTZ د معیشت د بلي لاري پروژه په ختیځ افغانستان کې: یوولسمه شمیره داخلي سند.

## ۴. د معيشت بله لاره: راولاړېدونکې ستونزې

**پروگرام نه! بلکه اختتام**

په افغانستان کې د متبادل انکشاف دپخوانيو پروژو او هغه ملي پروگرامونوپه نظرکې نيولوسره چې هدف يې يوه لړۍ خدمتونه لکه فزيکي او اجتماعي بنسټيزه رغونه ، کريديت، د زراعت رشد او تقويه وه، نو يوشمير گڼو ستراتيژيکو روښونواو پاليسيو ته ضرورت دی. دافغانستان دحکومت ستراتيژي دا ادعا کوي چې د انکشافي مرستو تهييه کول دکوکنارو دکښت سيمو ته دملي انکشاف د پروگرامونو په چوکاټ کي يو تر لاس لاند ي پروگرام دی چې ددې پروگرامونو په نتيجه کې به داسي يو اجتماعي اقتصادي قانوني او سياسي شرايط رامنځ ته شي چې بزگران به نور دي ته ضرورت ونه لري چې کوکنار وکري.

مگر په خواشيني سره بايد ووايو چې د نشه يی توکو پر ضد د مبارزې د ستراتيژي په اته اړخيز پروگرام کې د معيشت بله لاره، د منعې او له منځه وړلود نکاتو سره يوځاي په نظرکې نيول شوی دی. بې له دې چې داسې وښول شي چې د معيشت بله لاره ديوه هدف په توگه وکارول شي چې په تدريجي ډول به د ترياکو دله منځه وړلو اوانکشافي مرستو وسيله شي.

دا يوه اسانه خبره ده چې د معيشت د بلی لارې په معرفي کولو سره ددې په مقصد چې په تمويل کونکو منابعو زور واچول شي چې دوي خپلې ما لي مرستې په افغانستان کې د معيشت د بلی لارې هير شوي سکتور ته زياتي کړي او په دې ډول خپله وفاداري او تعهد د نشه يی توکو په ضد کوښښونو کې وښيي. او دا هم اسانه ده چې د معيشت د بلی لارې پروگرا م داسي وښودل شي چې په ښه فعاليت اواجراتو دلالت وکړي البته دنشه يی توکو دکنترول د اهدافو په ډول، نه د انکشاف د محصول په توگه. د معيشت د بلی لارې څيړونکي په دې موافق نه دي چې د سږني کا ل د ترياکو دتوليد دکچې ټيټوالی د پروگرامونو اوبرنامو دښه تطبيق نتا يج وبولي. واقعا د دې خطر شته چې په ۲۰۰۶ کال کي يو ځل بيا د تريا کو د کښت کچه لوړه لاړه شي نو بيا به ملامتي د معيشت د بلی لارې په پروگرام اچول کيږي په داسي حال کي چې څرنگه د

معيشت د بلی لارې د پروگرام ماهيت دی د پيل څخه نه دي عملي شوی.

**د معيشت د بلی لارې شعاري پروگرامونه**

دافغانستان د دولت هلې ځلې د ترياکو د توليد دکچې ټيټوالي په هکله او بهرني فشارونه ددې سبب شول چې تمويلوونکې ټولنه مالي مرستو ته وهڅوي، چې په نتيجه کې دا لاندې پروگرامونه د معيشت د بلی لارې تر عنوا ن لاندې منځ ته راغلل.

دهغوتمويل کونکو لپاره چې د ملي انکشافي بودجي په هکله کارکوي اسانه وه چې دا ډول پرگرامونه په بودجوي لحاظ تمويل کړي. دمثال په ډول MISFA يا په افغانستان کي د کوچنيو قرضو د مرستي پروگرام، NEEP يا په اضطراري شرايطو کې د گمارلو پروگرام، او NSP يا دملي پيوستون پروگرام، د معيشت د بلی لارې دپروگرامونو تر عنوان لاندې معرفي شوي دي. که نوموړيو پروگرامونواو هغواثراتو ته چې نوموړي پروگرامونه يي دکوکنارو په کر نه لرې څيړشو نو وبه گورو چې د کوچنيو قرضو د مرستي پروگرام د ترياکو دکښت په سيمو کې کو م خاص تاثير نه دی درلودلاي او ځينې يي لا په عام ډول يو کاروبار بولي. برسيره پردې بايد زياته کړو چې هر ډول پرمختگ چې دترياکو د کرني په سيمو کې په سترگو کيږي د معيشت د بلی لارې تصور څني کيږي.

د ذکرشوي ادعا حقيقت د ملي پيوستون په پروگرام کې ښه ليدلاي شو، څرنگه چې په دې پروگرام کې نه يوازې په کاردگمارلو امکانات برابريږي بلکه د خلکو ټولنيزې اړيکې هم له دولت سره تا مينوي چې دا خبره په داسي هيوادونو کې چې دغيرقانوني توکو مولدين دي ډيره غوره ثابته شوې ده. او همدارنگه په عاجلو شرايطو کې په کار گمارلو پروگرام هم يو څه دکار زمينه برابره کړېده.

سره له دې چې ذکر شوي پروگرامونه په يوه ټولنه کې حتی ديوې ولسوالی په کچه هم په متداوم ډول نه دي تطبيق شوي. اوهمدارنگه يوشميرنورسکتوري

پرگرامونه لکه د اوبو لگول، زراعت، او د معيشت د بلی لارې دپروگرامونو ترعنوان لاندي موجودنه دي. نوباید داسي هيله ونه شي چې يوه سکتورته په پاملرنه به د يوې ټولنې واړه انکشافي پرابلمونه حل شي او يا به صرف يو ملي پروگرام دمعيشت بديل رول په دې ډول تمثيل کړي چې د ترياکودغه رول ځاي ونيسي چې دخلکو په ژوند کې يې لري.

که چيرې د NEEP او NSP پروگرامونه د معيشت د بلی لارې په پروگرام کي ځاي پر ځاي کيږي نوبيا د ښوونځيو او د تعليمی نصاب دانکشاف شا ملول څه ستونځي لري؟ دنوروهيوادونوڅخه په تجربې لکه تايلند، ښوونځيو او نورو تعليمي ادارو ته په پاملرنه وکولای شول چې حکومت د ترياکو توليدوونکو کورنيو سره يوه اجتماعي رابطه ټينگه کړي او همدارنگه ولې د ړومبي توب ملي پروگرام د معيشت د بلی لارې په پروگرام کې نه شامليږي چې د ماهروکارکونکو رابطه د مارکيت سره پيداکړي؟ داپروگرام کيدای شي دهغو سيمو لپاره ډيرپه گټه وي چې نفوس يې زيات او زراعتي توانمندي يې ټيټه وي. په داسي سيمو کي هيڅ بل زراعتي توکی دتر ياکو ځاي نه شي نيولای. تجربې له نورومما لکو څخه دا ښيي چې بهرني مهاجرتونه دکارلپاره دترياکودکښت په ټيټوالي کې اساسي رول لري.

که څه هم د معيشت د بلی لارې دپروگرامونو کړنلارې د لنډې مودې لپاره د مالي مرستو د جذبولو او دنشه يی توکوسره د مبارزي په کوښښونو کې په زړه پورې بريښي مگر د ا وږدي مودې لپاره زيات مو ثر ثابتيدای نه شي. همدارنگه د لاتين امريکې د هيوادو دا را په گوته کوي چې هغه برنامې چې مرستې يې د يوشمير شرايطو په وړاندې کولو سره عرضه کولې، او دکښت د کچې د ټيټولي درچې يې په هکتار سره اندازه کوله، بې له دې چې دکوکنارو يا ککو د کرني[5] په اصلي عواملوڅه اغيزه ولري مفيدې ثا بتې شويدي سره له دې چې نوموړې برنامې دنشه يی توکو د کنترول د پاليسې جوړوونکو له خو ا د انتقاد وړگرځيدلي دي. که دکوکنارو کښت په ۲۰۰۵-۰۶ کال دفصل په موسم کې يوځل بيا زيادت وکړي نو په احتمالي توگه به د داسي پاليسی دمنځ ته راوړوسبب شي چې په نتيجه کې به يې د معيشت د بلی لارې دپروگرامونو تمويلوونکي صرف دنشه يی توکو دکنترول لاس ته راوړنه ولري لکه څرنگه چې ديوه سکتورلرونکي پروگرام څخه توقع کيږي.

**اغيزې، نه ژمنې، او د شرايطو دوباره وضع کول**

په دې وروستيو وختو کی هغې بودجې ته چې د معيشت د بلی لارې د پروگرامونو دپاره يې ژمنه شوې وه ډيره زياته پاملرنه شوې ده کوم رقم چې د UNODC[6] له خوا ښو ول شوی د په تخميني ډول د ۴۹۰ ميليونه دالرو وعده شوې ده چې په ۲۰۰۵-۰۶ کال کې به د معيشت د بلی لارې پروگرامونوته ورکول کيږي، حال دا چې داهم معلومه نه ده چې څه څيزونه به په دې پروگرامونو کې شامل وي نو وبه ليد ل شي چې په راتلونکې کې څه کيږي. برسيره پردې دا هم څرگنده نه ده چې له ذکرشوي رقم څخه کومه اندازه عملا په ا ختيار کې ده، مخصوصا د جنوب او جنوب غرب سيمو لپاره په کوم ځای کې چې امنيت هم يو د تشويش وړ خبره ده، اوله ټولونه ستونځمنه مسله دا ده چې د اڅرگنده شې چې نوموړي مرستې به د بزگرانو په ژوند او معيشت باندې څه اثرات ولري په داسې حال کې چې د اثراتو څيړل هم ډير کم ترسره شوي دي.

او په دي خبره هم د نظر يووالی موجود نه دی چې په سږني کال کې دنشه يی توکو دکچې د ټيټوالي سبب څه دی، ځينی پاليسي جوړوونکي يې دانکشافي مرستو د عرضه کولو نتايج بولي، بې له دې چې د افغان حکومت هغه کوښښونه چې د تريا کو د کچې د درا ماتيک کمې سبب شويدي په پام کې ولري.

دابه وليدل شي چې تر سوال لاندې د لگښتونو تجزيه او تحليل به يو ځل بيا دانکشافي مرستو د عرضه کولو دپاره

[5] د متحده ايالاتو د محاسبې عمومې دفتر: "د نشه يې توکو مخ نيونه: په کولمبيا کې د معيشت د بلي لاري انکشاف د نامشروع زراعتې توکو په موخه لږ پرمختگ لرلي او له سختو خنډو سره مخامخ شوې دې"، GAO – ۰۲ – ۲۹۱.

[6] UNODC، ۲۰۰۵، "د ترياکو حالت په افغانستان کې د آگست، ۲۹، ۲۰۰۵ کال"، http://www.unodc.org/pdf/afghanistan_۲۰۰۵/opium-afghanistan_۲۰۰۵-۰۸-۲۶.pdf, p. ۴

دشرایطو د وضع کولو موضوع را منځ ته کړي. چې په دي ډول به د تریا کو دکښت دساحې اندازه کمی وموميٍ[۷]، خو په افغانستان[۸] او غیرقانوني توکو په نورو تولیدوونکو هیوادونو کې دشرایطو مو ضوع ته کمه پاملرنه شوې ده.[۹]

### دکوکنارودکښت د لاملونو یوځای کول

دحکومت اوځینو تمویلوونکو موسسو له خوا داسې هلې ځلې په لا ر اچول شویدي چې د معیشت د بلی لارې د پروګرامونو چې موخه یي معمولا د کوکنارو دکښت او دتریاکو د تولید ټیټوالی دی، له عامو انکشافي پروګرامونو څخه بیل کړای شي، په داسي حال کې چې ډیرې کمې هلې ځلې شوي دي چې دا په ډاګه کړي چې د معیشت د بلی لارې پروګرامونو جوړوونکی عوامل (لکه زراعت او چاپیریال، اقتصاد او اجتماع ) یا سازمانی عوامل (لکه خطره او بې باوري) ددې سبب شي چې بزګران خپلې فیصلې ته د تریا کو په هکله تغیرورکړي.

دکوکنارودکښت دلاملونو په باره کې د انکشافي ټولنې دتفاهم کموالی دزراعت د سکتور په هغه اولویتونو کې چې د کرنی د وزارت او ملګرو ملتو د زراعت اوخوراکي موادوداداري له خوا د ۲۰۰۶-۰۷ کال لپاره وړاندې شویدي ښه څرګند دی.

د متبادل انکشاف اصطلاح هغه کوښښونه را په ګوته کوي چې تریاکو دتولید په ضد په افغانستان کې ترسره کیږي: اودا کوښښونه به په نتیجه کې دسیمي انکشاف رامنځ ته کړي، همدغه اصل د انکشاف د فعا لینو له خوا څخه هم د تایید وړ دی او دنوروهیوادوتجربې هم دا ښوولې ده. دافغانستان په هکله د نومړي اصل وړاندیز د ښاغلي جان میلر له خوا چې د زراعتي اقتصاد یو جایزه وړونکی هم دي شوي دی. برسیره پردې نوموړی زیاتوي چې عملي او د تطبیق وړ ستراتیژي دتریاکوضد په هکله د یو پراخه سیمه ییز انکشا ف ستراتیژي ده.

که څه هم یو پراخ بنسټیزه سیمه ییز انکشاف ډیر ضروري دی، خو له پورتني بیا ن څخه چې د تریاکو دکښت او تولید خاصو لاملونو ته ځوا ب نه شي ویلی دومره تایید نه کیږي، ځکه کومې پروژې چې پخوا دمتبا دل انکشاف د پروګرام تر عنوان لاندې تطبیق شوي دي ګټه یي د ځمکې خاوندا نو ته رسید لی ده، د بزګرانو او بې ځمکې خلکو په ژوند کې هیڅ ډول بدلون نه تر سترګو کیږي او برسیره پردې یي عایداتي منا بع لکه ځمکه، په زراعتي اوغیرزراعتي برخوکې دکار کولو امکانات او دکریدیت لاس ته راوړنه، له لاسه ورکړي دي. او همدارنګه نوموړی پروګرام نه دي توانید لی چې ټولو سیمو ته څرنګه چې لازمه ده انکشافي مرستې ورسوي.

هغوسیمو ته په کومو کې چې ځمکه او اوبه کمې دي ډیره لږ پاملرنه شوې او اقتصادي بدیلونو ته هم لږ نظر شویدی، ضرورت دا وه چې پروګرا م باید په داسي پراخه بنسټ بنا وای چې د تریاکو د کرنې هر لامل ته یي په جدا ډول ځوا ب ویلی وای.

نوموړوستونزې د اوبولګولو د سکتور په پروګرام کې په ښه ډول تشریح شوي دي په دغه پروګرام کې دتریاکودکښت او تولید دکچې د راټیټولو لپاره د اوبولګولو د سیستم له تقویي سره سره ځینې نورو موضوعاتو ته لکه زراعتي خدمات، کریدیت، حرفوي زده ګړی، دحکومت رول، قانونیت او نظم ته هم اشاره شوې ده.
اوهمدارنګه یي دنشه یی توکوپر ضد دمبارزې بشپړه بررسي او همه جانبه تحلیل کړی دی.

### په کوچنی سطح پلان جوړونه

ددې لپاره چې د تریاکو دکښت لاملونه ښه په ګوته اوښه ځواب ورته وویل شې نو یولړ کوښښونه روان دي چې دولایتونو او یا ولسوالیو په کچه داسې کوچني پلا نو نه

---

[۷] د UNODC مشورې، "د زراعتي سیمو ژمنه چې د نشه یې توکو د کرنې څخه د یوې لویې انکشافي مرستې دپاره ډډه وکړې" د تریاکو وضع په افغانستان کې، P. ۱۰.

[۸] د ډیوډ مانسفیلډ د ۲۰۰۲ کال څیړنې ته وګورې، "د متبادلې ناکامې: متبادلوې وده په افغانستان کې"، د متبادلوې ودې په چوکات کې د نشه یې تو کو او همکارې په هکله تیارې شوې پاڼې د بین المللي کانفرانس دپاره، فیلدافینګ، جرمنې. د ۲۰۰۲ کال د جنوری د میاشتی له ۷ – ۱۲.

[۹] د نشه یې موادو په هکله کمیسیون ته وګورې، د ۲۰۰۵ کال د فبرورې د میاشتې ۲۸، تبادلوې وده: نړیواله موضوعې ارځونه، وروستنی ترکیبې ګذارش، E/CN.۷/۲۰۰۵/CRP.۳, p. ۱۲-۱۳

http://www.gtz.de/de/dodumente/en-thematic-evaluation-ae.pdf

تر لاس لاندې ونیول شي چې د (نه مرکزیت) په نامه یادیږي. داروپا کمیسون ا و د جي-ټي-ذیډ موسسی په ګډه په نوموړي کړنلاره ټینګار کوی او غواړي چې یوه نمونوي پروژه په ننګرهار کې د ولسوالیو په سطح دتریاکو دکچې د ټیټوالي لپاره پلان کړي.

د بدخشان د ولایت پرمختیایي ګروپ هم کوښښ کړي دي چې بیلابیل پرمختیایي فعالین را غونډ او په دې خبرې وکړي چې څوک به څه ترسره کوي تر څو داسي یو قوت را منځ ته شي چې د انکشاف سبب او دنشه یی توکو پر خلاف اثرات يي ښکاره وي.

برسیره پر دې ټولو باید ووایو چې د منطقي ا و یا ولایت په کچه دیو ښه او جامع پلان جوړول او په هغه پلان کې دنشه یی توکو پر خلاف د اهدافو ځاي پر ځا ی کول به له ابها م سره مخا مخ شي ځکه چې له یوې خوا ددې پلان او دهغه د هم اهنګی په هکله د حکومت دریځ نه دي څرګند اوله بلې خوا څخه یو شمیر ډیرې موسسې دي چې هرې یوې خپل پروګرام په ځانګړي ډول روان کړی دی. نو دا به ډیره سخته و ي چې د دوې اهداف، او ستراتیژي په هم اهنګ ډول پرمخ ولاړشي. ځینو نورو ادارو بیا خپل ځا ن ته داسي همکاران پیدا کړي دي چې څوک يي د ولایت په سطح د والې په همکاری (سره له دې چې دولایت مقاما ت یو رسمې صلاحیت په نوموړو ادارو هم نه لري) او ځینې نوریې بیا د اړوند وزارت په همکاری خپل پلانونه په همغه ولایت کې مخ په وړاندې بیا يي. حال دا چې د پا لیسی له مخې کیدای شي چې په ځینو موضوعاتو کی یوشمیر تنا قضا ت را منځ ته شي لکه د شرایطو د وړاندې کولو موضوع، دمثا ل په ډول د ملي اولویت پروګرام چې په ننګر هار کې تر لاس لاندې دی تر اوسه د پا لیسی له مخی هیڅ ډول شرایط نه لري نو دا ډول ابهام به دوام لري، سره له دې چې د ۲۰۰۴ کال د جون په میاشت کې د معیشت د بلی لارې د کاري ګروپ په مجلس کې په یوه وا حد موقف باندې موافقه شوې وه او د ولایت په کچه د انکشا في پلان داسی اسا س کېښودل شو چې په هغه کې د ولا یتي او محلي مقاماتو رول، د امنیت ښه والی، د اختلاس اورشوت له منځه وړل، خلع سلاح، او نشه یی توکو پرخلاف ټکي پکښې داخل وه.

په اوسنې وخت کې ممکن د د اسې یو چوکاټ منځ ته راوړل دانکشافي مرستو د عرضه کولودپاره او همدارنګه د معیشت د بلی لارې د ښو نتایجو لاس ته راوړو کې مفید ثابت شي. اوهمدارنګه د معیشت د بلی لارې د پروګرام د ا نوی پلان به د دې سبب شي چې له یوې خوا به د انکشا في مرستو دوړاندې کولو زمینه برابره کړي اوله بلې خوا به په ملي او ولایتي کچه په پالیسي جوړولو کې مرسته وکړي[۱۰]، او نوموړ ی پلان به د افغان دملي انکشافي ستراتیژي له خوا هم تقویه شي او دا غوره ده ځکه چې دنشه یی توکوپرخلاف کوښښونه به هم په نوموړي ستراتیژیک پلان کې ا وهم د بن د موافقت نه وروسته تړونونوکې د بین ا لمللي ټولنې لپاره د اهمیت وړوي. سره له دې که یوه قوي هم اهنګي رامنځ ته شې، نو ډیر زر به د ولایت او ولسوا لی په کچه د پلان جوړولو پر میکا نیزمونو په یوه عمومي او ملي چوکاټ کې غور وشي. ولې دا اوسنې پروګرامونه چې د مقا یسې وړ هم نه دي او هغه اداري چې نوموړي پروګرامونه د ولسوالی او ولایت په کچه عملې کوي داسې نه بریښي چې دوی به ددې محدودو منا بعوڅخه داسې مناسبه ګټه اوچته کړي چې د نشه یی توکو د کنترول لاس ته راوړنې به ولري.

[۱۰] سوداګرې د زورمندانو تر نفوذ لاندی: د آزاده مارکیټ پالیسي په افغانستان کې، سارا لیسټر، آدم پن، د څیړنې او ارځونې اداره کابل افغانستان – هغه بیلکه پیشکش کوې چې دغه نزریې ته ګواښ کوې.

## ۵. په مخکې لارې

د معیشت د بلی لارې استعما ل د نشه یی توکو پر خلاف دیوې اجندا په شکل یو شمیر مهم خطرونه لري. د تریاکو د کچې دراما تیکې را ټیټید له با ید د ساحې دکښت په کچه نه! بلکه د هغود لاملونو په مقایسه تحلیل کړای شي په د مطلب دا چې د مرض د علایمو په عوض با ید دهغه اسا سي علتونه له منځه یوړل شي او فکر ور با ندې وشي. او که صرف دعلایمو د له منځه وړلو په فکر کې شو، نو د سیمې غریب خلک به مو په اقتصادي او سیا سي ډول گوښه کړي وي. د نشه یی توکو پالیسي جوړونکې او بین ا لمللي کتونکي سلاکاران با ید په سړه سینه د هغوهیلو په تکل کې شي چې دوی یې دیوعاجل بدیل معیشت یا د معیشت د بلی لارې د پروگرامونو څخه لري. تر اوسه د معیشت د بلی لارې پروگرامونو، او همدارنگه دملي پروگرامو څخه کتنې، او شویو څیړنو داسې یو ښکاره تفا هم نه دی را منځ ته کړی د کوم له کبله چې د یوې کورنۍ په فیصله باندې له غیرقانوني معیشت څخه وقانونې معیشت ته اثر ولري لکه د بیلا بیلو اقتصادي او اجتما عي ډلو، او جندر په پام کې نیول، او یا د هغو خصوصیا تو په پام کې نیول کوم چې په انفرادي او ټولنیزډول دخلکو په تصمیم او فیصله تاثیر لري. نو له دې کبله باید دنشه یی توکو د کنترول او انکشافي مسلکي کارکونکو د مها رت د سطحې لوړوالي ته ړومبی توب ورکړای شي چې په دې ډول به دنشه یی توکوپر خلاف پروگرام په اغیزمن ډول د حکومت په ملې انکشافي ستراتیژۍ کې ځا ی ونیسي.

دهغو درسونو او مثا لونوڅخه په ګټه اخیستوچې له نورو‌ملکونو څخه ذکر شول با ید دا لا ندې ټکي په نظرکې ولرو:[۱۱]

- د معیشت د بلی لارې مستقیمه را بطه د قانون د تطبیق کونکو مراجعو سره ټینګول: له زور او فشارڅخه کار اخیستل دپا لیسی دوسیلې په ډول بې له دې چې کومه نتیجه نه لري ستونځې نوري هم زیاتوي. د مثا ل په ډول د جنوب اسیا د ځنګلونو د تنظیم تا ریخ ته که ځیر شو نو وبه ګورو چې زور او پولیس دځنګلونو دمنابعو په ساتنه کې مرسته ونه کړه بلکه ستونځې یې لا زیاتې کړې.[۱۲]
- د شرایطو وضع کول دبودیجې دحصول دپاره
- د یوپراخه انکشافي پلان جوړولو لپاره د پروګرامونو څخه د پروژوجداکول.
- د اشترا کي پروسې څخه ډیره لږ ګټه اخیستل: په دې باندې تاکید کول چې د پروژې لاس ته راوړنې دتریاکو دکښت په سا حې څومره اثر کړیدې ډیرکم څه په لاس راغلي دي. نوداسی فرصتونه باید منځ ته راوړلای شي چې په مجموع کې د خوا صو او عادت د تغیر سبب شي.

په واضح او روښانه ډول ددې ضرورت لیدل کیږي چې یوپراخه او د څو سکتوره لرونکې پروژې را منځ ته شې ترڅو د تریاکو د لاملونو بشپړ ځواب ووایي چې په لاندې ډول یې یادولی شو.

- دحکومت چا روته پاملرنه کول ځکه چې د بې ثباتی په نتیجه کې کورنې دتریاکو دکرنې اوغیرقانوني اقتصاد په باره کې ښه تصور کولا ی شي.
- دزراعت له کبله د توانمندو اوناتوانه سیمو په منځ کې یوتوازن په نظرکې نیول لکه بازار یا مارکیت ته لاس رسی. په دې موخه چې نه یوا ځې دسیمې په اسا س سرمایه ګذ اري وشي بلکه د پروګرام خصوصیا تو او تحلیل ته هم زیاته پاملرنه وشي.
- دغریبا نو اړتیاوو ته یوه خا صه پاملرنه کول ځکه چې دوی دعوایدولږفرصتونه په لاس کې لري. نوددوی لپاره با ید اوږد مها له عایداتي منابع لکه د استخدام امکانات، زراعتي اوغیرزراعتي فعالیتونو موقع برابره شي
- د مشاهدې او کتنې یوموثر سیستم منځ ته راوړل چې د معیشت د بلی لارې دروش یو اساسي عنصرتشکیلوي او د معلوماتې منبع دسیستم د جوړولو لپاره هم یو اسا سي څیز دی. دپروګرا م په

[۱۱] د نشه یې موادو کمیسیون ، ۲۰۰۵، تبادلوې وده: نړیواله موضوعې ارځونه، وروستنی ترکیبې ګذارش،

[۱۲] ان سنډر، ۲۰۰۰، "د اشتراك تحلیل او سپړل د ځنګلونو مشترکه اداره" وده او بدلون، ۷۹ - ۳۱:۲۵۵

ترڅ کې یوازې دموادو ویشل او توزیع کفایت نه کوي نو دمشاهدې او کتنې په ترڅ کې به دا څرګنده شي چې کوم مثبت تغیرات منځ ته را غلي دي. په دې خبره پوهید ل چې څرنګه یوه کورنی د غیرقانوني معیشت څخه دقانوني معیشت خوا ته ځي د پالیسې جوړوونکودپاره او همدارنګه دپروګرام د طرحې او اجرا لپاره یوه ډیره مهمه خبره ده.

که چیرې پروګرامونه او پروژې په ستراتیژیک ډول طرح اورا منځ ته شي، بې له شکه به هغه ددې سبب شې چې تمویلونکې ټولنه دې ته وهڅوې چې د نشه یی توکو پرخلاف لازمه بودجه اختصا ص کړي.

**سپارښتنې او وړاندیزونه**

هغه د معیشت بله لار چې د کابل په سطح یې تبلیغا ت کیږي د معیشت بلی لارې یوواقعي مودل دې چې وعده یې کیږي نه هغه څه چې له مخکې موجود دي. خا ص وړاندیزونه چې بدیل معیشت یا د معیشت د بلی لارې غوره کولو ته یو واقعیت او اعتبار وربخښي، په لاندې ډول دي:

- دتریاکو دتولید د لاملونودیو قوي تحلیل اوتجزیې ترلاس لاندې نیول (اوڅرنګه نوموړی لاملونه د وخت په تیریدو سره بد لیږي ) چې په دې تحلیل او تجزیه کې باید دپروګرام جوړښت، اجرا کونکو، اصول او مقرراتو ته زیاته پاملرنه وشي. چې په نتیجه کې هغه تغیرا ت څرګند شي چې په مادي او معنوي ډول دتریا کو په کښت کې را منځ ته کیږي.
- د پروګرام د محتویا تو تجزیه او تحلیل چې دهغوټولوتغیراتو ځوا ب ویونکی وي کوم چې دزرا عتې سیمو د پوتانسیل، بازار یا مارکیت ته د لاس رسې، اواړونده ټولنیز و اړتیاوو په ترڅ کې منځ ته را ځي.
- د ولایت او ولسوالی په کچه ا صلاحات منځ ته راوړل یو له هغو ضروري څیزونو څخه ګڼل کیږي چې د معیشت یوه بله پاییدونکی لار او د نشه یی توکو پر خلاف د ستراتیژی لپاره اساسي عنصر تشکیلوي. د نوموړو اصلا حاتوسره موافق هغه سیمې د لمړي ځل لپا ره هدف نیول کیدای شي چې د تریاکو دکښت لنډه تاریخچه لري.
- د اوږد مهاله مودې د پراخه اهدافو په موخه د معیشت د بلی لارې ایجا دول، او نه په دې هیله چې د یوې لنډې مودې لپاره دکښت دسا حې د ټیټوا لي په مقصد وي.
- د برخه اخیستنې جریان ته یوه خا صه پاملرنه کول تر څو یو د اسې جوړښت منځته را شي چې د معیشت د بلی لارې د تقویې سبب وګرځي او تریاکو پرخلا ف خپل رول ولوبوي. د انکشا في مرستو او زورڅخه په ګډه کار ا خیستل، او یا د شرا یطو وضع کول به څه خا صه ګټه ونه لري، په تیره بیا په هغو سیمو کې چې د تریاکو دکښت یواوږد تاریخ لري.
- د کتنې او مشاهدې د سیستم جوړول اوپه کار اچول د معیشت د بلی لارې د پروګرا م یوه غوره برخه جوړوی داڅرا تو تخمین با ید د ورکړې یا توزیع په اسا س ونه شي بلکه ښه او د لوړ ستندارد لرونکي شواهد باید وړاندې شي.
- دانکشافي او همدارنګه د نشه یی توکو د کنترول مسلکي کارکونکو د مهارت لوړوالې ته دې ږومبې توب ورکړل شي چې له دې کبله د تریاکو پر خلاف د مبارزې اهداف په اغیزمن ډول د حکومت په ملې انکشافي ستراتیژي کې ځا ی پر ځا ی شي.

دافغانستان د څیړنې او ارځونې اداره (AREU) یوه مستقله اداره ده چې د عمل او زده کړې وړ څیړنې تر سره کوي او هم د څیړنې فرصتونه برا بروي چې په نتیجه کې به په پا لیسي جوړولو کې مرسته کوي. همدارنګه نوموړی مرکز په فعا له توګه د څیړنواو زده کړې رواج ته وده ورکوي تر څو د تجزیې او تحلیل کولو ظرفیتونه په افغا نستا ن کې پیاوړی شي او هم د تجزیې او تحلیل، فکر کولو او منا قشې فرصتونه برابر شي. د دې ادارې بنیا دې لرلید دادی چې د نوموړې مرکز د کار په نتیجه کې با ید د ا فغا نا نو ژوند بهبو د ومومي.
نوموړې اداره په ا فغا نستا ن کې د مرسته کونکې ټولنې په مرسته منځ ته را غلی ده چې مدیره هیت یې له ملګرو ملتونو (UN)، تمویلوونکو ادارو، ملي او بین ا لمللي ادارو څخه نما ینده ګی کوي.

د نوموړې ادارې اوسني بودجه د ملګرو ملتونو د مرستندویه ادارې (UNAMA)، اروپایي کمیسون (EC) ملګروملتونودمها جرینو د ادارې (UNHCR)، د هالنډ د مهاجرینو موسسه (Stichting Vluchteling)، جهاني بانک (WB)، د بریتا نیا د بین ا لمللي انکشا ف د ادارې (DFID) او د کانا دا، سویدن، سویتزرلند، دنمارک هیوادونو له خوا ورکول کیږي.

د زیا تو معلوماتو او یا نشراتو د لاسته راوړلو لپاره په دې پته تما س ونیسی.
د څیړنې او ارځونې اداره:
د انصاري څلور لارې، د انصا ف هوټل مخا مخ، نوی ښار، کا بل، افغانستان
ټیلیفون: ۰۷۹۶۰۸۵۴۸ ۹۳+
زموږ برېښنا پاڼه او آدرس: www.areu.org.af / areu@areu.org.af